**د افغانستان اسلامي امارت**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۷ / رجب المرجب/۱٤٤٥هـ، ق موافق۲۹ / جدی/۱۴۰۲هـ،ش**

# له مسخرو، عبثیاتو او بیهوده خبرو او کارونو څخه ځان ساتل.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد لله الذي حث بحفظ اللسان، وجعل استقامته دلیلا علي الإیمان، والصلاة والسلام علی سیدنا محمد أعظم إنسان، صلی الله علیه و علی آله وأصحابه الأعیان، أمابعد :

قال الله عزوجل : (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ وَلا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْراً مِنْهُنَّ وَلا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلا تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الأِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ) الحجرات: (۱۱)

**قدرمنو حاضرینو!**

هغه ټوکې او مسخرې چې په هغه کې دمسلمان توهین وي یا په کې درواغ وي، یاپه کې غلط او ناکاره الفاظ وي چې هغه دمسلمان د شخصیت سره نه ښایې، یا دخلکو دخندولو لپاره وي اویا یې دخپل ژوند ا ساسي دنده جوړه کړې وي چې دهغې په ذریعه سره خپل د ژوند چارې سموي او خپل اقتصادي ستونزې پرې حل کوي نو همداسې ټوکې کول خنداګانې کول ناروا اوحرامې دې.

نن ورځ هم ځینې خلک په داسې ټوکو ، مسخرو او بیهوده کارونو او خبرو باندې اخته دي چې هغه داسلام سره په ټکر کې دي لکه دمسلمان توهین کول په ټوکو کې ښکنځل کول او داسې نورې ناوړې خبرې کول؛ چې دا ټولې دمحمدی شریعت څخه وتلې ټوکې او مسخرې دي دی اوحتی ځینې داسې کسان هم شته چې په ټوکو کې داسلام توهین کوي، دقران کریم توهین کوي، کفری الفاظ کاروي، دعالم توهین کوي او په دین پورې ملنډې وهي، نو دا قسم انسانان دکفر سرحد ته نیږدې کیدونکې دي.

په ځینو ځایونو کې دا عادت وي چې ځینې کسان محفل جوړوي بیا دا سې کسان راغواړي چې هغه مسخره چیان وي او هغوی پر یو بل مسخرې او ټوکې کوي او نور خلک ورته ناست وي اوددوی په خبرو پورې خاندې، دداسې قسم ټوکو هدف یواځې او یواځې دخلکو خندول وي او په ناوړه خبرو طبیعت خوشحاله کول وي. دداسې خلکو په باره کې سخت وعید راغلی دی .

البته باید ووایو هغه ټوکې چې  د خلکو مســخره کول په کې نه وي ، دمســلمان توهین په کې نوي،  دروغ په کې نوي دخلکو دخندولو ســبب نوي، ټوکې کول د ځان عادت جوړول نه وي ، ناوړه الفاظ په کې نوي او حقیقت وي او کله ناکله کیږي، نو داسې ټوکې کول حرامې ندي او روا دي، خو مسخرې په هرحال ناروا دي ځکه دټوکو او مسخرو ترمنځ توپیر موجوددی.

## د مسخرو،  عبثو او بیهوده کارونو او خبرو حرمت په شرعي نصوصو کي:

مسخرې کول، ټوکې ټکالې کول او عبث او بیهوده مجلسونه کول نن صبا په اکثرو حجرو، میلمستونونو او مجلسونو کې د خلکو بالخصوص دځوانانو عادت ګرځیدلی دی چې دا کار خورا لویه ګناه ده او الله تعالی یو بل پورې د مسخرو او ټوکو ټکالو څخه منع کړی ده او مونږ لره په کار دي چې د هغه څخه ځانونه وســاتو چې الله تعالی ورڅخه منع  فرمایلې ده او یا دا چې د الله  تعالی د نارضایتی سبب ګرځي.

الله تعالي فرمايلي دي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ وَلا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْراً مِنْهُنَّ وَلا تَلْمِزُوا أَنْفُسَــكُمْ وَلا تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْــمُ الْفُسُــوقُ بَعْدَ الْأِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ) الحجرات: (۱۱)

ترجمه:- ای هغو کســانو چې ایمان یې راوړی دی هیڅ قوم دی په بل قوم پورې مســخرې نه کوي کیدای شي چې هغوی له ده نه ډیر غوره وي او نه (دې)  ښځې په نورو  ښځو پورې (مسخرې کوي) کیدای شي چې هغوی له دوی نه ډیرې غوره وي او تاســو دخپلو ځانونو عیب جویی مه کوئ او یو بل په بدو لقبونو (او نومونو) سره مه بلئ ، له ایمان راوړلو نه بعد د فسق نامه بده ده او چاچې توبه ونه ویستله نو همدغه کسان ظالمان دي.

الله جل جلاله په دې مبارک آیت کې د څو ډوله کارونو څخه منع کړی ده چې د مسخرو او عبثیاتو له جملې څخه دي او مونږ یې په ترتیب سره بیانوو:

**۱- لا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ وَلا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْراً مِنْهُنَّ:**

لاَ يَسْخَر کلمه د سخرية" څخه اشتقاقه شوې ده. سخرية د چا په هکله د هغه کار څخه عبارت ده کوم چې د حاضرینو د خندا سبب جوړیږي، چې متعدد صورتونه لري لاندي بیلګې یې ولولئ:

**الف:** چې په قول سره څوک توهین کړی شي او ملنډې ورپورې وشي. ب: چې د  سترګو په اشارو یا د لاس او یا سر په ښــورولو سره ورپورې حاضرین خندولی شي. ج: چې په لیک یا پیښــو کولو سره  خلک وخندول شي او ټوکې ټکالې ورپورې وشي او داسې نور.

حافظ ابن کثیر ددې آیت په تفســیر کې وایي: الله تعالی پر خلکو د مســخرو کولو څخه منع کړی ده او په خلکو پورې مسخرې کول د هغوی حقیر ګڼل دي او ورپورې استهزاء کول دي ...کیدای شي چې مسخره شوي خلک د لوی مرتبې خاوندان وي د الله تعالی په وړاندې او نسبت مسخره کوونکي ته ، مسخره شوي خلک  الله تعالی ته ډیر محبوب وي.
امام طبري رح د ســورت حجرات آیتونو په تفسیر کې وایې: (الله تعالی عموما ټول مؤمنان ددې څخه منع کړل چې یو بل پورې مسخرې وکړي د مسخرو د ټولو شکلونو څخه یې منع کړی دي ، دا حلال نه دي چې یو مؤمن بل مؤمن پورې ټوکې او مسخرې وکړي د هغه د فقر له وجې یا د هغه د ګناه په وجه یا د نورو وجوهاتو په وجه.) تفسیر طبری

مسخرې او ټوکې کول د بې دینه خلکو کار دی. د نوح علیه السلام قوم به د نوح علیه السلام د کشتۍ په جوړولو پورې مسخرې او ټوکې کولی. (وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُواْ مِنْهُ قَالَ إِن تَسْخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ).هوی: (۳۸)

ترجمه:- او هغه (نوح علیه السلام) بیړۍ جوړوله په داسې حال کې چې کله به هم په ده باندې دده له قومه څه مشران تیریدل (نو) په ده پورې به یې مسخرې کولی . هغه وویل که تا سو په مونږ پورې مسخری کوئ نو بیشکه مونږ به هم په تاسو پورې مسخری وکړو لکه څرنګه چې تاسې مسخرې کوئ.

صحابه کرامو به د مسخرو څخه دومره ځان ساتلو چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايلي دي:(وعن عبد الله بن مسعود: البلاء موكل بالقول، لو سخرت من كلب لخشيت أن أحول كلبا). تفسير القرطبي) ١٦ /٣٢٥)

د عبدالله بن مسـعود رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي: بلاء په وینا پورې تړلی ده ، که چیرې زه مسـخره په سپي پورې وکړم، زه ویریږم چې له مانه به سپی جوړ شي.

عن عمرو بن شرحبيل: (لو رأيت رجلاً يرضع عنزاً فسخرت منه خشيت أن أكون مثله).

د عمرو بن شرحبيل رح فرمايي چې که ما يو سړی په دا سې حال کې وليد چې د وزې له تيو څخه يې شيدې څښې او زه ور پورې وخاندم، زه ويريږم چې زه به هم د هغه په شان شم.

اکثره وخت مسـخرې او ټوکې ددې لپاره کيږي چې خلک ورباندې وخاندي چې دا يو ناوړه او بيهوده کار دی او بايد چې مسلمان ورڅخه ځان و ساتو. په حديث شريف کې ددا سې کس لپاره درې ځله د هلاکت بددعائي شوی ده. په حديث شريف کې راځي:(عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ قَالَ حَدَّثَنِى أَبِى عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم- يَقُولُ: وَيْلٌ لِلَّذِى يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ). سنن أبى داود-٤ /٤٥٤

ترجمه:- د بهزبن حکيم څخه ر وايت دی هغه وايي چې ماته پلار د خپل پلار څخه روايت نقل کړی دی ، د هغه نيکه وايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي وه يې فرمايل: هلاکت دې وي هغه کس لره چې خبرې کوي او درواغ په کې وايي، ددې لپاره چې خلک ورباندې وخندوي ، هلاکت دې وي ده لره ، هلاکت دې وي ده لره.
په يو بل حديث شريف کې راځي: (عَنْ عَائِشَـةَ أَنَّهَا حَكَتْ امْرَأَةً فَقَالَ لَهَا رَسُـولُ اللَّهِ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ أَحَدًا وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا). مسند أحمد ٤١ /٥٠٠، سنن الترمذى
ترجمه:- د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی چې هغه حکايت کوي ديوي ښځي نه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: زه د چا نقل کول نه خوښه وم ، که څه هم چې دنيوي مال ماته هر څومره راکړل شي.
په ټوکو او مسـخرو کې عموما داسـې خبرې وي چې د الله تعالی د غضـب لامل کيږي او څوک چې داسـې ناوړه خبرې کوي، له امله به يې ويونکی جهنم ته داخل شي. په يو حديث شريف کې راځي: (عَن أبي هُرَيرة ، قال : قال رَسُـول اللهِ صـلى الله عليه وسـلم : إن الرجل ليتكلم بالكلمة من سـخط الله لا يرى بها بأسـا ليضـحك بها أصـحابه فيهوي بها في جهنم سبعين خريفا). مسند البزار ٢ /٤٤٣، والترمذی

ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: بیشکه یو سړی به یوه خبره کوي هغه خبره چې الله تعالی پری په غضب کیږي او ددې خبری به پروا نه کوي خو ددې لپاره چې په دې خبره خپل ملګري وخندوي .پس وبه لویږي په سبب ددې خبری په جهنم کې اویا کاله.
په یو روایت کې راځي: (عن عائشة رضي الله عنها قالت : مر رجل مصاب على نسوة فتضاحكن به يسخرن ، فأصيب بعضهن) . الأدب المفرد (ص: ٢٠٩)

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وايي: یو مصیبت زده سړی په ښځو تیر شو، هغه ښځو په هغه پورې وخندل او مسخره یې ورپورې وکړه ، نو ځینې د هغو ښځو ته هم مصیبت ورسیده.

عن وهب بن منبه قال ان أعظم الذنوب عند الله بعد الشرك بالله السخرية بالناس). حلية الأولياء (٤/ ٥١)

ترجمه:- د وهب بن منبه رحمه الله څخه روایت دی هغه فرمايي: بیشکه د شرک څخه ورو سته لویه ګناه د الله تعالی په وړاندې په خلکو پورې مسخرې کول دي.

په چا پورې د هغه د غربت او فقر له وجې ټوکې نه دي په کار ځکه کیدای شي چې دا فقیر او غریب سړی الله تعالی د مالدارانو او سرمایه دارانو څخه غوره وي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: رُبَّ أَشْعَثَ مَدْفُوعٍ بِالأَبْوَابِ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لأَبَرَّهُ). صحيح مسلم ٨ /٣٦

ترجمه:- له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي ډیروخت د بیرویښتو والا (دوړو وهلی) او د دروازو نه شړل شوی دا سې دی چې که چیرې د الله په برو سه د چا په خبره قسم وخوري نو الله تعالی به یې بَري کړي په قسم کې. (د هغه قسم پوره کوي).

فائده: د الله بندګان په ظاهره داسې ذلیله او بدښکاري چې څوک یې په خپله دروازه کې دریدو ته هم نه پریږدي او په باطن کې داسې پاک وي چې الله جل جلاله ته هر وخت دهغوی خاطر کول منظور وي .

مګر دا هم نه دي په کار چې د شرع نه خلاف په فقیر عوام د ولي او قطب اعتقاد ولري ځکه چې نبي علیه السلام په دې حدیث کې ځینې بد شکله عاجزانو لره مقبول فرمایلي دي او دا یې نه دي فرمایلي چې شراب خور، فاسق او فاجر او مونځ ېریږې والا به هم داسې وي.

واقعه: د حضرت بلال په قسم صبا را خیژي: په مسند فردوس کې یوه واقعه ذکرده چې یوځل حضرت بلال په رمضان کې د صبا د اذان په انتظار ؤ چې کله صبا را وخیژي نو اذان به کوي بل طرف ته نبی کریم د پیشمني کجورې خوړلې حضرت بلال د خپلې تجربې مطابق نبی کریم ته عرض وکړو حضرت تا سو خوراک بند کړئ صبا راوختلو خو نبي علیه السلام د هغه په خبرې ته څه توجه ونکړه؛ بلکې کجورې یې خوړلې حضرت بلال دوباره عرض و کړوحضرت! خوراک بند کړئ صبا را وختلو خو نبي کریم صلی الله علیه و سلم بیا هم خوراک جاري و ساتلو په دریم ځل حضرت بلال رضی الله عنه عرض وکړو په الله قسم صبا راوختلو تاسو خوراک بند کړئ نبي صلی الله خپله هم خوراک بند کړو او صحابوکرامو ته ئې هم و فرمائیل چې خوراک بند کړئ صبا را وختلو صحابه کرامو ترې تپوس وکړو حضرت! په دې پوهه نشو چې د دویم او دریم ځل په وینا کې خو دومره وخت نه وو تیر شوې حالانکه په دویم ځل وینا باندې تاسو خوراک کولو او په دریم ځل مو سمدستي بند کړو او ومو فرمائیل چې صبا را وختلو نو نبي علیه السلام ورته وفرمائیل

حقيقت دا ۇ چې صبا را ختلې نه وو خو چه كله بلال قسم وخوړلو چې صبا را وختلو نو الله تعالى د بلال د قسم د وجې صـبا را وخيژولو چې ترڅو زما بنده بلال په قسـم خوړلو كې حانث نشي. د دې واقعې نه هم معلومه شـوه چې كله الله تعالى د چا سره محبت كوي نو بيا دا هم نه غواړي چې هغه دې په قسم كې حانث شي.

٢- وَلاتَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ: قال القرطبي:(اللمز:العيب، وقد مضى في"براءة "عند قوله تعالى:(ومنهم من يلمزك في الصدقات)[التوبة: ٥٨ ].

وقال الطبري اللمز باليد والعين واللسان والاشارة، والهمز لا يكون إلا باللسان).تفسير القرطبي(١٦ /٣٢٧)

ترجمه:- امام قرطبي وايې:لمز:عيب ته ويل كيږي لكه چې په سورت براءة كه تير شو:(ومنهم من يلمزك في الصدقات)

امام طبرى وايي:عيب بيانول په لاس هم كيږي،د سـترګې په اشـاره هم كيږي او په بل ډول اشـاره هم كيږي او(همز)يوائې په ژبه عيب ګويى ده.

حافظ ابن كثير وايي: (والهماز اللماز من الرجال مذموم ملعون كما قال تعالى: {وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ}. تفسيرابن كثير٤ /٢٥٦
ترجمه:- په ژبه عيب بيانوونكى او په لاس عيب بيانوونكى او په سـترګه عيب بيانوونكى او په اشـاره عيب بيانوونكي مذموم او بد خلك دي او لعنتيان دي لكه چې الله تعالى فرمايلي دي: {وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ}. هلاكت دې وي هريو په ژبه عيب بيانوونكي لره او په لاس او ژبه او سترګه او اشاره عيب بيانوونكي لره.
٣- وَلَا تَنَابَزُوا بِالأَلْقَابِ: (ولا تداعوا بالألقاب).تفسير الطبري) ٢٢ /٢٩٩
ددې آيت مراد دادى چې تاسـو يو بل ته په بدو القابو آوازونه مه كوئ لكه اى ګوډه!، اى شـله! اى توره! اى ړونده! اى فاسقه!
اى زناكاره! او لنډيه! او داسې نور.
امام قرطبي ددې آيتونو لاندې ليكي:( المعنى أن من لقب أخاه أو سـخر منه فهو فاسـق...فمن فعل ما نهى الله عنه من السخرية والهمز والنبز فذلك فسوق، وذلك لا يجوز). تفسير القرطبي ١٦ /٣٢٨
ددې آيت معنا داده چې څوک خپل ورور په( بد) لقب ياد كړي او يا وريپورې وخاندي نو هغه فاسق دى، نو څوک چې هغه كارونه كوي چې الله تعالى ورڅخه منع فرمايلى ده مسخره، عيب جويى نودا فسق دى او دا ناجائز دى.
بيا الله تعالى ددې كارونو په ډيرو سـختو ټكو سره مذمت بيان كړى دى او فرمايلي دي (بِئْسَ الِاسْـمُ الْفُسُـوقُ بَعْدَ الْأِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ).
علامه الوسي په دې اړه ليكلي دي:(وهو ذم على اجتماع الفسـق وهو ارتكاب التنابز والإيمان على معنى لا ينبغي أن يجتمعا فإن الإيمان يأبي الفسق). روح المعاني ٢٦ /١٥٥
ترجمه:- دا مذمت دى په راجمع كيدو د فسـق چې هغه د بدو القابو ارتكاب او ايمان دى، دا په دې معنا چې په كار نه دي چې دا دواړه سره جمع شي ځكه ايمان نه غواړي فسق.
په پورتني آيتونو كې د ټولو هغو مواردو ،كړنو او ويناوو څخه منع راغلى ده چې د مسخرو، بيهوده او عبثياتو لامل ګرځي او نن صبا خلك وربانديې مبتلا دي او هيڅ باك يي نه ګڼي.
هغه خبرې او كارونه چې بيهوده او عبث وي قرآن كريم ور څخه په( لغو ) تعبير كړى دى او فرمايي چې د هغه مؤمنان كامياب دي چې د لهو ولعب او بيهوده كارونو او خبرو څخه ځان سـاتي. الله تعالى فرمايي: (وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ).المؤمنون: (٣)

ترجمه:- او هغه کسان چې دوی له لغو (خبرو او کارونو) نه مخ ګرځوونکي دي.

امام قتاده رحمه الله د لغو په تعريف کې وايي:( قال قتادة: كل كلام أو عمل لا يحتاج إليه فهو لغو ). بحر العلوم للسمرقندي (٢/ ٤٧٣) . هر هغه وينا او کار چې ورته اړتيا نه وي ، هغه په لغوه کې حسابيږي.

په اسلامي شريعت کې انسان بايد داسې خبرې وکړي چې يا ورته ضرورت وي او يا هم کومه فائده ولري او يا کومه دنيوي يا اخروي ګټه ور باندې مرتب وي ، له دې څخه علاوه بې فائدې خبرې کول عبثې او بيهوده خبرې دي او مسلمان بايد کوښښ وکړي چې د بې ځايه ، عبثو ، بيهوده او بې فائدې خبرو کولو څخه ځان وساتي. د عبثو او بيهوده خبرو په باره کې په حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم- : إِنَّ اللَّهَ يَرْضَى لَكُمْ ثَلاَثًا وَيَكْرَهُ لَكُمْ ثَلاَثًا فَيَرْضَى لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُوا وَيَكْرَهُ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ ). صحيح مسلم (٥/ ١٣٠)

ترجمه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه الله تعالی خوښ ګڼي ستا سو لپاره درې شيان او بد ګڼي ستا سو لپاره درې شيان. خوښ ګڼي ستا سو لپاره دا چې تاسې د هغه عبادت وکړی او په هغه پورې شريک مه جوړوئ هيڅ شی او بل داچې تاسې منګولی ولګوئ په رسۍ دالله (قرآن) ټول او اختلاف مه کوئ او بد ګڼي ستاسو لپاره قيل او قال او زيات سوالونه کول او مال ضائع کول.

علامه ابن حجر رح وايي چې ددې حديث څخه مقصد دادی چې نبي عليه السلام نهی کړی ده د هغو زياتو خبرو کولو څخه چې فائده په کې نه وي. فتح الباري لابن حجر (١٨/ ٢٩٧)

عبث او بيهوده هغه خبرو ته ويل کيږي چې کومه فائده ورباندې مرتب نه وي . دداسې خبرو څخه په شريعت کې منع شوی ده او بيهوده زياتې خبرې کول زړه سخته وي. په حديث شريف کې راځي:(عن ابن عمر رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : : لا تُكْثِرُوا الكَلاَمَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ ؛ فَإنَّ كَثْرَةَ الكَلاَمِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى قَسْوَةٌ لِلقَلْبِ ! وإنَّ أبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللهِ تعالى القَلْبُ القَاسِي) . رواه الترمذي . د عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: زياتې خبرې مه کوئ پرته دالله له ذکر څخه ، بيشکه چې پرته د الله له ذکر څخه زياتې خبرې کول د زړه سخت والی دی او بيشکه په خلکو کې د الله څخه لرې هغه سخت زړه دی.

غير ضروري او بيهوده خبرې پريښودل د مسلمان صفت دی .په يو حديث شريف کې راځي: (عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يعْنِيهِ). الموطأ و الترمذي

ترجمه:- له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي : د الله رسول صلی الله عليه وسلم وفرمايل : د انسان يعنې د مسلمان د غوره اسلام څخه داده هغه شی پريږدي کوم چې بې ګټې وي.

بيهوده او عبث خبرې دانسان ليکل کيږي او خپل د اعمالو کتاب په داسې خبرو ډکول نه دي په کار چې دنيا او آخرت کې ورته د ګټې پرځای تاوان ورسوي. الله تعالی فرمايي : (مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلاَّ لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ). ق : ١٨

ترجمه:- (دغه بنده) هيڅ خبره نه کوي مګر له ده سره حاضر ساتونکی دی.
يعنې هيڅ قسم خبرې نه کوي مګر داچې دا ټولې خبرې ليکل کيږي.

په یو حدیث شریف کې راځي: (عَنْ سُـفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُـولَ اللَّهِ مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ ثُمَّ قَالَ هَذَا). سنن الترمذي(٤ /٦٠٧)

ترجمه:- د حضرت سفیان بن عبدالله ثقفی څخه روایت دی هغه وایې چې ماوویل:ای د الله رسوله!کوم شیان چې ته زما لپاره ویروونکي ګڼې په هغو کې زیات ویروونکی څه شی دی؟ددې په اوریدلو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله ژبه مبارکه ونیوله او ویې فرمایل: دا.

داسلام لارښوونه داده چې مسلمان باید یا دې دخیر خبری وکړي او یادې چوپ شي.(عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم : مَنْ كَانَ يُؤمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلاً يؤذِ جَارَهُ، مَنْ كَانَ يُؤمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ: فَلْيَقُلْ خَيْراً أَوْ لِيَصمِت) . متفق عليه

ترجمه:- له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د الله رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري باید خپل ګاونډي ته ضرر ونه رسوي او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري باید د خپل میلمه درناوي وکړي او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري یا دې ښه خبره وکړئ او یا دې چوپ شئ.

بیهوده او عبث خبرې جنت دداخلیدو مانع ګرځي. په یو حدیث شریف کې راځي:(عن أنس رضي الله عنه قال:«تُوُفيِّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ يعْنِي رَجُلٌ أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ، فَقَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم:أَوَلا تَدْرِي، فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيمَا لا يعْنِيهِ، أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا ينْقُصُهُ) سنن الترمذي (٤/ ٥٥٨)

ترجمه:- له انس رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د یارانو څخه یې یو نفر مړ شـو بیا وویل شـوه ( یعنې یوه سـړي وویل) د جنت زیری ورکړئ، نو ر سول الله صلى الله علیه و سلم وفرمایل : آیا نه پوهیږئ ممکن هغه بې فایدې او چټې خبرې کړې وي او یا یې د هغو پیسو په هکله چې له اړتیا څخه یې زیاتې وي بخیلي کړې وي.

**مسخرو یا ټوکو تاوانونه:**

۱. ډیری ټوکې کول دهغه ټوکي کوونکی څخه سړیتوب او مروت وړي.

۲. دکوچنیانو په مخ کې ټوکې کول هغه ټوکې کوونکی هیبت له منځه ځي او دماشـومان په مخکې سـپک او بې عزته کیږي.

۳. ټوکې کول سپکاوی او ذلت رامنځ ته کوي، عظمت او جلال د مینځه وړي.

٤. بدې ټوکې او مسخرې کول ښې ملګرتیاوې له منځه وړي یعنې دده ملګري به دده څخه ځان جدا کوي.

۵. بدې ټوکې کول ددښمنی تخم دی او دخلکو ترمینځ دښمنی رامنځ ته کوي.

٦. ټوکې دمخ روښنایی له منځه وړي یعنې بې ابرو کیږي.

۷. ټوکې او مسخره کوونکی شخص ترعزت وروسته ذلیله کیږي.

۸. ټوکې او مسخرې کول ماشومان پر ټوکمار شخص باندې زړور کوي او جرأت ور باندې پیداکوې.

۹. ټوکې کوونکی  به دخلکو په مینځ کې بې عزته او حقیر وي.

۱۰. مسخره کوونکی به دخلکو په وړاندې درواغجن او بې باوره بلل کیږي.

۱۱. بدې ټوکې دټوکې کوونکي زړه سختوي یا په بل عبارت زړه یی توریږي.

۱۲. ډیرې ټوکې کول په نتیجه کې کینه او حسد رامنځ ته کوي او خلک به ورسره حسد او کینه کوي.

۱۳. او تر ټولو لوی تاوان دادی چې بدې ټوکې دوزخ ته دداخلیدو سبب کیږي.

۱٤. او په آخره کی دحضرــت عمر رضي الله عنه وینا ده وایی څوک چې ډیری ټوکې کوي هغه ســړی به دخلکو  په نظر کې سپک او بې ارزښته شي .

۱۵. ټوکې او مسخرې د ټوکې کوونکي په جهالت دلالت کوي.